**یادداشت:**

آنچه در ذیل خدمت تان تقدیم می گردد، اعلامیه ایست که هفتهٔ قبل از طرف " سازمان ولسی ملت" غرض نشریه آدرس پورتال فرستاده شده بود. از آنجائیکه این اولین تماس آن سازمان با پورتال بود، ما نخواستیم قبل از کسب اطمینان، آنرا نشر نمائیم. اینک که به وسیلهٔ دوستان مشترک از اصالت اعلامیه مطمئن شده ایم، جا دارد ضمن ابراز خیرمقدم برای آن سازمان و به امید آن که بتوانند به مانند دوران تقابل با امپریالیزم روس در سنگر دفاع از میهن و مردم دربند آن استوارانه بایستند، از ارسال اعلامیه به آدرس پورتال اظهارامتنان می نمائیم.

با عرض حرمت

اداره پورتالAA-AA

بسم الله الرحمن الرحیم

د افغانستان د ملت د ولسي سازمان اعلامیه

ټاکل شوي ده چه د روان یعنی (۱۳۸۹) لمریز کال د سنبلی د میاشتي په اوه ویشتمه (۲۷) نیټه افغانستان کی پارلماني (د ولسی جرگی) ټاکني ترسره شي. که څه هم چي د هېواد سیاسي، امنیتي حالات د رښتینو ټاکنو لپاره بالکل نه دي برابر او د هېواد په ډېرو برخو کي د ټاکنیزو حوزو نشتوالی، د نوماندانو، رایه ور کوونکو، د ټاکنو د کمیسیون کارکوونکو، د ټاکنیز بهیر ناپیلیو څارونکو او د رایي ورکولو د صندوقونو ډاډمنه ساتنه ناشوني بریښي، خو بیا هم دا کار سر ته رسېږي. دا ځکه چي دا په افغانستان باندي د نړیوال حاکم سیاست او د همدغه سیاست پلي کول د افغاني ائتلاف ګډه غوښتنه ده.

هغه باندیني ځواکونه چي افغانان او د افغانانو خاوره یي د خپلو موخو لپاره د خونړۍ لوبي ډګر ګرځولی، په دي ښه پوهېږي چي په کوم هېواد کي چي داسي سرتاسري جګړه روانه وي، د خارجي اړخونو له خوا په خلکو یوه ځانګړې سیاسي ډله ورتپل شوي وي او د هېواد د ځمکي او آسمان واک یي د اصلي استوګنو سره نه وي، نو په داسی وضعیت او موقعیت کی ټاکني د دیموکراسی د ارزښتونو د تاواني کولو څخه پرته بله هیڅ پایله (نتیجه) نه شی درلودي.

د افغانستان د ژوري او پیچلي کشالي سره سرسري (بابیزه) یا سطحي سلوک د افغاني سیاست هم هغه منفي اړخ دی چي د هېواد ستی یا وجود بقا یي د سخت خطر او ډار سره مخ کړی ده.

د افغانستان د شرايطو د علمي تحليل پر بنسټ زموږ د ولس ملي غوښتنه، خپل اختيار په خپل لاس کې اخيستل، د خپل هېواد يو موټی او متحد ساتل، او په دې هېواد باندې د افغان ولس حاکميت دی.

دا ټاکنې نه يوازې د پورتنيو بنسټيزو موخو سره، بلکه د يوه سره هم مرسته نه شي کولای او د افغاني ټولنې بحراني حالات د بحران څخه د توپان خوا ته راکاږي. پخوا تر دی هم په ورته شرائطو کی تر سره شوی ټاکنې او د هغو پايلی، او زمونږ د هيواد يوی نه تر بلی ورځی خرابيدونکی عمومی حالت ددی خبری ژوندی ثبوت دی.

هغه ځانګړي (په نامه) افغانان چې د باندنيو اړيکو او پيوندونو په مرسته د افغانستان په سياست او اقتصاد باندې واکمن شوي او اوس يې د قابضې ډلې بڼه ځانته غوره کړي او ټول ملت ئی يرغمل نيولی دی، هېڅکله هم د ملت حاکميت، عادلانه سولې او ټولنيز عدالت پلې کولو او تأمين ته غاړه نه ږدي ځکه د دوی ګټې او جوړښت دواړه له دغو آرونو (اصولو) سره په ټکر کې دي.

که څه هم د افغانستان د ملت ولسي سازمان د ولسواکۍ په نظام باندې بشپړ باور لري او ټاکنې د ديموکراسی يو حسابي ارزښتناک آر (اصل) ګڼي، خو دا نشي منلی او مطمئن نه دی چې په افغانستان باندې د مسلط کړای شوو حالاتو او مسلط کړای شوو حلقو (کړيو) د شته والی په صورت کی به د ټاکنو ولسی ټاکنيز نظام او د ټاکنو اوسني بهير په سم لوری پر مخ ولاړ او واقعا به د خلکو له خوا غوره شوې ريښتينی ولسی جرګه منځ ته راشي.

همدارنګه دا ټاکنې نشي کولای چې د افغانانو پام د خپل هېواد د ملي اساسي ارمان څخه بلې لوري ته واړوي او يا هغه تضادونه يو څه ضعيف کړي چې د حاکم ائتلاف په منځ او د ائتلاف او ملت تر منځ د واټن د زياتيدو په لورګړندی حرکت کوي.

د مستقل، متحد او سرلوړي افغانستان په هيله

د سنبلی ۲۳ ، ۱۳۸۹ کال